بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

ستره محکمه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

**د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش**

شنبه ۲۹ لیندۍ ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۹ جمادی الآخرة ۱۴۴۷ هـ ق | ۲۰ دسمبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۲۰)


## د محاکمو په قضائي برخه کې د وړ او مسلکي کسانو د جذب په موخه د ملک په کچه له سلګونه علماء کرامو ازموینه واخیستل شوه

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې اړوند محاکمو په قضائي بستونو کې د وړ او مسلکي کسانو د جذب په موخه له شاوخوا (۳۰۰) علماء کرامو څخه د چهارشنبې په ورځ (۲۶/ ۶/ ۱۴۴۷ه ق) نېټه د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې تحریري ازموینه واخیستل شوه.

دغه ازموینه د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم راسخ، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید سعید، د کارکوونکو چارو عمومي رئیس محترم مولوي سیف الله آغا، د قضائي زده کړو عمومي رئیس محترم شیخ قیام الدین قانت، مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کریم الله زاهد، د سترې محکمې د اداري معاونیت د دفتر رئیس محترم مولوي عبدالمتین صمیم، د استخدام او سوانحو رئیس محترم مفتي عبدالوارث سعید، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم راشد، د ارزونې او ظرفیت لوړونې رئیس محترم حافظ نصیر احمد صیاد او ګڼ شمېر نورو مسؤولینو په موجودیت کې واخیستل شوه.

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رئیس محترم شیخ قیام الدین قانت صاحب د ازموینې په پیل کې ګډونوالو ته د یادې ازموینې په اړه بشپړ معلومات ورکړل.

محترم شیخ صاحب حاضرینو ته ډاډ ورکړ چې پارچې به يې د سترې محکمې د محترمو شیخ صاحبانو لخوا په دقت کتل کېږي، د بریالیو کسانو نوملړ به د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست په رسمي ادرسونو نشرېږي.

دغه راز د ازموینې ګډونوالو خوښي څرګنده کړه چې د ملک په یوه مهم ارګان کې د دوی د جذب په موخه ترې شفافه ازموینه واخیستل شوه وویل، موږ دغه ازموینې ته د ګډون، د ازموینې بهیر له شفافیت او نورو مراحلو بشپړ راضي او خوشحاله یو او ډاډه یو چې هغه کسانو ته چې وړ او د نورو په پرتله لوړې نمرې اخلي، به محاکمو کې د خدمت فرصت ورکول کېږي.

د مولوي محمد نصیر په نوم د بادغیس ولایت اوسېدونکي او د ازموینې یوه ګډونوال وویل، موږ د دغه ازموینې له بهیر بشپړ راضي یو، ازموینه کې د قضاء او افتاء مسلک اړوند لس پوښتنې شاملې او د حل په موخه يې موږ ته کافي وخت راکړل شو.

دغه راز د ازموینې بل ګډونوال مفتي الله داد هم د ازموینې له بهیر بشپړ رضایت څرګند کړ وویل، موږ د سترې محکمې له عالي مقام مننه کوو چې د ملک سلګونه علماء کرامو ته يې د دوی د مسلکي زده کړو او تجربې په اساس په دغه ازموینه کې د ګډون فرصت ورکړ، ازموینه ډېره شفافه او موږ ترې بشپړ راضي یو.

د یادونې وړ ده چې په دغه ازموینه کې لوړو نمرو لرونکي بریالي علماء کرام به ۴۵ ورځني قضائي روزنیز سیمینار ته معرفي کېږي او د سیمینار تر پای ته رسولو وروسته به تر بل امتحان وروسته د محاکمو اړوند مناسبو بستونو کې په خدمت ګمارل کېږي.

## د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي؛ چې جزئیات يې په لاندې ډول دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته د امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) (۴) قطعې فرمانونه، د ریاست‌الوزراء (۱۲۷) حکمونه او د کابینې (۷) قطعې مصوبات راغلې، چې د سترې محکمې د عالي مقام د لارښوونو له مخې د لازمو اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوي دي.

۲- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته د مخابراتو وزارت څخه (۱۰۷۰) قطعې مکتوبونه راغلې او اړوندو شعبو ته توزیع شوي دي.

۳- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته د وزارتونو، اماراتي ادارو، کمېسیونونو، د ملک له ۳۴ ولایتونو د محاکمو او نورو اړوندو ادارو څخه (۶۳۴) رسمي لیکونه راغلې، چې د سترې محکمې عالي مقام د هدایت له مخې اړوندو مراجعو ته د وروستیو اجراآتو لپاره لېږل شوي دي.

۴- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست د سترې محکمې (۷) وړاندیزونه د ریاست‌الوزراء مقام ته د منظورۍ او تصویب په موخه وړاندې کړي دي.

۵- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته د ریاست‌الوزراء مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، اماراتي او غیر اماراتي بانکونو او د سترې محکمې مرکزي ریاستونو له لوري (۹۲۳) مکتوبونه، د استهدا څانګې دوسیې، د تجدید نظر غوښتنې، د صلاحیت تفویض، د محکمې د تبدیلۍ او د ملک بېلابېلو محاکمو د هدایت غوښتنې اړوند اسناد راغلې، چې د عالي مقام د هدایت له مخې اړوندو ادارو ته د اجراآتو په موخه سپارل شوي دي.

۶- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته (۱۲۶۰۳) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د آرشیف له لارې صادر او وارد شوې، چې اړوندو څانګو ته تسلیم او لېږل شوي دي.

۷- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست ته د ملک د ټولو ولایتونو له مرافعه محاکمو څخه (۱۵۸) قطعې مکتوبونه د سترې محکمې د مخزن عمومي مدیریت ته رسېدلې؛ چې له دې جملې (۱۳۳) قطعې مکتوبونه د قبالو او نورو وثایقو د معلوماتو په اړه وو او اړوندو مراجعو ته معلومات ورکړل شوي، (۲۵) قطعې مکتوبونه چې ورسره (۴۵۳) جلده کتابونه د ( ۱۴۰۰، ۱۴۰۱، ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ هـ ش) کلونو د وثایقو کلنې راپورونه شامل وو، د حفظ لپاره مخزن ته تسلیم او ځای پر ځای شوي دي.

۸- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست د (۵۸۶۴) مراجعینو عریضې د عالي مقام د هدایت پر اساس ثبت کړې او له اجراآتو وروسته خپلو صاحبانو ته بېرته سپارل شوي دي.

۹- په لومړۍ ربعه کې د تحریراتو ریاست (۱۷۸) دعوه کوونکو او د بهرنیو ادارو استازو ته چې د پارسلونو یا مکتوبونو ترلاسه کوونکي وو؛ د اړینو معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته د هدایت مطابق اړوند شعبو ته لارښوونې شوې دي.

## د سترې محکمې مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته له محاکمو او بېلا بېلو مرکزي او ولایتي ادارو څخه (۱۲۳۸) رسمي مکتوبونه راغلي، چې تر اجراآتو وروسته بېرته اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۲- په لومړۍ ربعه کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته (۲۳۳۸) دوسیې را لېږل شوې؛ له دې جملې څخه (۷۱۱) د ځانګړو محاکمو دوسیې (د تېرې اداري د فیصلو په تړاو د قضائي هیئت لخوا) دي، چې (۱۵۰) دوسیې تائید، (۲۵۵) دوسیې نقض او (۱۳۵) دوسیې مستردې شوې دي.

۳- په لومړۍ ربعه کې (۱۶۲۷) دوسیې له اړونده مراجعو څخه د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته راغلې، له دې جملې څخه (۸۸۵) دوسیې د تمیز غوښتنې په موخه پنځه ګونو دیوانونو ته، (۲۵۰) حقوقي دوسیې، (۸۸) جزائي دوسیې او (۴۰۴) متفرقه دوسیې محاکمو او اړوند مرکزي او ولایتي ادارو ته د اجراآتو لپاره لېږل شوې دي.

۴- په لومړۍ ربعه کې (۲۵۵۱) عریضې یاد ریاست ته راغلې؛ چې له دې جملې څخه (۱۶۱۶) عریضې تر احکامو وروسته عارضینو ته تسلیم شوې، (۷۳۴) عریضې مستردې شوې او (۲۰۱) عریضې د اصحاب دعوې له دوسیو سره یو ځای شوې دي.

۶- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست پنځو دیوانونو رئیسانو لخوا (۴۱۴) دوسیې د مشورې په موخه د مرکزي تمیز له رئیس سره شریکې شوې؛ له دې جملې څخه (۳۷۲) دوسیې تائید، (۴۲) دوسیې مستردې او د شرعي او قانوني فیصلو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوې دي.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**د ابوبکر صدیق ﵁ په دوره کې د قضاء وده:**

له شک پرته پر خلیفه/امیر باندې قضاء فرض عین ده؛ ځکه دا د شرعي احکامو د پلي کولو له مهمو اړخونو څخه ده، د دین او دنیا د چارو اقامه پرې موقوفه ده؛ نو په خپله دا سپېڅلې دنده ترسره کوي او یا به د ځان له طرفه استازی وټاکي.

او ابو بکر ﵁ کله کله په پلازمېنه کې قضاء خپله ترسره کوله، لکه د انا د میراث مسئله کې، چې وروسته به يې یادونه راشي.

کله به يې بل چاته وسپارله، چې د وکیع د محارب بن دثار څخه روایت کوي، وايي: ماته فلان دا روایت کړی دی، چې وايي: کله چې ابو بکر ﵁ خلیفه وټاکل شو؛ نو عمر او ابو عبیده بن جراح رضي‌الله عنهما ته يې وویل: بې‌شکه ماته د همکارانو اړتیا شته، نو عمر ده ته وویل: زه قضاء برخه کې درسره یم او ابو عبیده وویل: زه د بیت‌المال برخه کې درسره یم.( أخبار القضا:۱/۱۰۴)

او له پلازمېنې بهر يې قاضیان ټاکلي وو، مګر دده په دوره کې قضاء خپلواکه نه وه؛ بلکې د ولایت ترڅنګ به وه، او ده ﵁ د نبوي دورې زیاتره قاضیان او والیان په خپلو ځایونو پرېښې وو، چې د قاضیانو په بحث کې به يې بیان راشي.

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د حقیقي او حکمي اشخاصو د حقونو اړوند (۱۰۰۰۴۰) قطعې حقوقي عریضې ثبت او په اړه یې لازم اجراآت شوي دي.

۲- په لومړۍ ربعه کې (۱۶۶۹۳) حقوقي قضیې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې دي.

۳- په لومړۍ ربعه کې (۱۸۴۵) قطعي او نهایي شوې فیصلې او قرارونه تطبیق شوي دي.

۴- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې محترم مقام د هدایت په اساس د حقوقو عمومي رئیس او اړوند ادارو مسؤولینو ترمنځ د هغو کسانو د جلب د موضوع په اړه چې ضمانت نشي ورکولای؛ غونډه وشوه.

## د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي تفتیش عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د قضائي اجراآتو د ارزونې په موخه، د فاریاب، بدخشان، بامیان او نورستان ولایتونو له زندانونو څخه لیدنه او نظارت ترسره کړی او د ټولو بندیانو د وضعیت او اړتیاوو په اړه یې له دوی سره خبرې کړې دي.

۲. د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د مرکزي او ولایتي محاکمو له اجراآتو څخه د اصحاب دعوی د شکایتونو په تړاو (۱۷۹) اقتضائي موضوعات دغه ریاست ته راجع شوي، چې له دې ډلې (۱۳۷) قضیې څېړل شوې او اړوند راپورونه د سترې محکمې عالي مقام ته استول شوي دي، پاتې (۴۲) دوسیې لا هم د قضائي مفتشینو تر څېړنې لاندې دي.

۳. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د ولایاتو د محاکمو کلني او ربعوار راپورونه چې د پلان او پالیسۍ ریاست ته استول شوي وو، د محاکمو د عادي اجراآتو د څېړنې په ترڅ کې د قضائي مفتشینو لخوا وڅېړل شول.

٤. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د یو واحد قضائي سلوک او په محکمو کې د سالمو کړنو د ترسره کولو په موخه، د سترې محکمې د عالي مقام د حکمونو، اصولو، مقرراتو او تصویبونو په نظر کې نیولو سره، د فاریاب، نورستان، بدخشان او بامیانو ولایتونو قاضیانو او اداري کارکوونکو ته لازمې لارښوونې وشوې.

٥. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د قضائي او اداري منسوبینو د عادي اجراآتو د څېړنې په جریان کې چې د هغوی وړتیا، اهلیت، زیار او لیاقت په کې څرګند شوي دي، د قضائي مفتشینو له طرفه په لوړ بست کې د دوی د تقرر وړاندیزونه د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شوي دي.

٦. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، په اسلامي امارت او محاکمو باندې د خلکو اعتماد زیاتولو او له مراجعینو او نورو امارتي ادارو سره د ښه چلند برخو ته جدي پاملرنه شوې او مسؤولینو ته جدي او لازمې لارښوونې شوې چې د خلکو شکایتونو ته رسېدنه پر خپل وخت او د اصولو مطابق وکړي، سربېره پر دې، له هغو مراجعینو څخه چې د ستونزو د حل په موخه محاکمو ته حاضر شوي وو، معلومات هم ترلاسه شوي، ترڅو وڅېړل شي چې د محاکمو منسوبین ورسره څه ډول چلند کوي.

۷. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د یو شمېر محاکمو عادي کړنې وڅېړل شوې، ترڅو هغه قاضیان او مامورین تشخیص شي چې د صداقت، ژمنتیا او مسلکي پوهې له مخې وړتیا لري او د لا زیاتو مسلکي زده کړو اړتیا لري؛ د یادو څېړنو پر بنسټ راپورونه ترتیب او د بعدي اقداماتو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شول، څو له مخې یې د یادو کسانو د ظرفیت لوړونې په موخه لازم تصمیمونه ونیول شي.

۸. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د نورستان، بامیان، فاریاب، بدخشان محاکمو د قضائي او اداري مسؤولینو کړنې وڅېړل شوې، په یاده څېړنه کې هغه نواقص چې کم وو، د محاکمو له مقرراتو او مصوباتو سره سم د مفتشینو لخوا ورته لازمې توصیې او لارښوونې وشوې او هغه نواقصات چې زیات وو، راپورونه یې د بعدي هدایت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شول.

۹. د قضائي تفتیش عمومي ریاست له وظایفو څخه د سترې محکمې عالي شورا مصوباتو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو دوامدار نظارت کول دي، چې د مفتیشینو لخوا په لومړۍ ربعه کې یاد نظارت ترسره شوی دی.

۱۰. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، د قضائي مفتشینو له لوري د فاریاب، بامیان، بدخشان او نورستان ولایتونو د قضائي او اداري مسؤولینو عادي او اقتضائي ستونزې تشخیص او د حل په موخه یې راپور د بعدي هدایت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شو.

۱۱. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې، قضائي مفتشینو د محاکمو او استوګنې ودانیو له فزیکي وضیعت څخه لیدنه وکړه او د یو شمېر ودانیو د ترمیم په هکله یې خپل راپور د بعدي هدایت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستوو.

## د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه اجرا کړي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د قضائي زده کړو عمومي ریاست د هغو پنځو روزنیزو پروګرامونو چې د (۳۳) ولایتونو د محاکمو سلګونه اداري کارکوونکو لپاره د سترې محکمې د دغه ریاست او ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې ریاست لخوا په لاره اچول شوي وو؛ له نیکه مرغه ټول یاد روزنیز پروګرامونه ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې ریاست د منسوبینو د ګډو او هر اړخیزو همکاریو په پایله کې په بریالیتوب ترسره شول.

## د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې مالي او اداري چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست لخوا د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې د ټاکل شوي هیئت په وړاندې (۳۶) عرادې وسایطو د لیلام اسناد د ریاست الوزراء عالي مقام له منظورۍ وروسته ترتیب او یاد وسایط لیلام ته وړاندې شول.

۲. په لومړۍ ربعه کې د مالیې وزارت د متحدالمآل او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د فرمان پر اساس، (۱۰۴) قضائي، اداري او خدماتي منسوبین چې د تقاعد مستحق وو؛ د اته سلنه تقاعد سهمیه ورکړل شوه.

۳. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې او د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د روغتیایي کلینیکونو لخوا (۳۲۸۲) مجاهدینو او اداري کارکوونکو ته د لابراتواري معایناتو، زرقیاتو، سیروم، اکسیجن تراپي او زړه‌ګراف په برخو کې طبي خدمات وړاندې شوي دي.

٤. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د اړتیا وړ (۵۸۵) قطعې معاشونه او مصرفي حوالې اجرا او مالیې وزارت ته لېږل شوي دي.

٥. په لومړۍ ربعه کې د ساختماني چارو په برخه کې د کابل ولایت د اوومې حوزې اړوند د وثایقو ودانۍ د اساسي جوړښت او د ابتدائیه محاکمو ګڼ شمېر ودانیزې پروژې تطبیق او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې؛ چې په کې د فلزي الماریو او زرهې دروازو جوړول، د سولري انرژۍ سیستمونه، د موټرو تم ځایونه، د اوبو رسونې سیستمونو جوړول، د جومات او نورو لازمو ودانیو جوړول، د څښاک اوبو د تصفیې خونې، د ژوري څاه کېندل او د قاضیانو استوګنې کورونه شامل دي.

## په ننګرهار ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د ننګرهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې جزا دېوان د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته چې په پر غلا متهم وو؛ په ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد کسان پر دوه- دوه کاله تنفیذي بند او ۲۵- ۲۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو متهمینو تطبیق شوه. د تعزیري سزا یاد حکم د ابتدائیه محکمې مسؤولینو، د محبس او نورو امارتي ادارو مسؤولینو په شتون کې پر متهمینو تطبیق شو.

## په میدان وردګ ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت د حصه اول بهسود ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یو ښځې په ګډون دوو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم؛ په ۱۷/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له یو کال څخه تر پنځلس میاشتو پر تنفیذي بند او ۲۵- ۲۵ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي عبدالله (فرقاني)؛ قضائي غړو او د نورو امارتي ادارو مسؤولینو ګډون کړی وو. غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د مرافعه محکمې رئیس لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## په غزني ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت ښاري ابتدائیه او د اندړو ولسوالۍ ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې دوو کسانو ته چې په لواطت او زنا متهم و؛ د ۱۴۴۷ هـ ق کال د ربیع الآخرة میاشتې په ۲۴ مه او ۲۵ مه نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محاکمو یاد کسان پر یو- یو کال تنفیذي بند او ۳۵- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو. دغه پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو متهمینو تطبیق شوې.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت بدخشان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی یفتل ولایت بدخشان بالای دو تن به شمول یک زن به جرم داشتن روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲۳/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین را به ۲۵- ۲۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## دکابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۳۶۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۱۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د کابل ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د وثایقو آمریتونو او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو د ۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه ۲۹ /۵ / ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۳۳۶۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۱۷) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د جزائي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د جزائي دوسیو په برخه کې (۱۷۶۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د حقوقي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د حقوقي دوسیو په برخه کې (۸۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د تجارتي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د تجارتي دوسیو په برخه کې (۷۶۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د وثیقو په برخه کې:**

د کابل ښار د وثیقو او سندونو د ثبت آمریتونو او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (۲۸۱۷) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۴۱) دوسیه، به تعداد (۱۷۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ (۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۱) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۹) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۷۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۰۸) دوسیه، به تعداد (۳۱۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۸۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۴) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۴) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۱۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت لغمان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۳ ) دوسیه، به تعداد (۱۰۳ ) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت لغمان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت لغمان به تعداد (۱۰۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت کندز طی دوه هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۲۴) دوسیه، به تعداد (۱۲۸ ) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۵) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۰۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۲) دوسیه فیصله شده، (۲۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۰) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۱۲۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## دکندهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۸۹۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۳۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

د کندهار ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د کندهار زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱ /۵/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه ۳۰ /۵ / ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۸۹۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۳۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۶۷۹) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷۷) دوسیې فیصله شوې، (۸۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۰۶) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۴۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵۰) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۶۳۲) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۲۶) دوسیه، به تعداد (۲۱۱ ) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۱۱) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۳۲) دوسیه، به تعداد (۲۰۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۲۴) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده، (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۰۸) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۰۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خپرندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## حکم جزای تعزیری بالای پنج مجرم و متهم در ولایت سرپل تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی گوسفندی ولایت سرپل بالای پنج تن به شمول دو زن به جرم روابط نامشروع و اتهام زنا، به تاریخ ۱۸/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین و متهمین را از یک تا سه سال حبس تنفیذی و از ۲۵ تا ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد. حکم جزای تعزیری در محوطهٔ محکمهٔ مرافعه در حضور رؤسای دواوین، اعضای قضائی، کارمندان اداری، خدماتی، پرسونل نظامی و مراجعین تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای هفت مجرم و متهم در ولایت تخار تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی ینگی قلعهٔ ولایت تخار بالای هفت تن به اتهام لواطت و سرقت و به جرم قماربازی، روز یکشنبه مؤرخ ۲۳/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه دو متهم را از یک سال تا یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹-۳۹ دُره، یک متهم را به ۱۵ دُره و چهار مجرم را به ۲۰-۲۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار مجرم و متهم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی گرزیوان ولایت فاریاب بالای چهار تن به شمول دو زن به جرم داشتن ارتباط نامشروع و اتهام زنا، به تاریخ ۲۲/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین و متهمین را به یک ـ یک سال حبس تنفیذی و ۲۵-۲۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم و متهم در ولایت جوزجان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی درزاب ولایت جوزجان بالای سه تن به شمول دو زن به اتهام زنا و جرم نکاح نامشروع، روز چهارشنبه مؤرخ ۲۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه یک زن و مرد را از یک سال تا سه سال حبس تنفیذی و از ۱۵ تا ۳۹ دُره جزای تعزیری و یک زن دیگر را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد. حکم جزای تعزیری در محضر عام در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیه؛ اعضای قضائی و مسؤولین ارگان های آن ولسوالی تطبیق گردید.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۲**

**نېټه: ۱۴۴۷/۵/۱۹ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ځینې موضوعاتو په هکله د صادر شوي هدایاتو په اړه.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۷/۵/۴هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی: " کله چې د یوې معلومې موضوع په هکله هدایت د سترې محکمې د عالي شورى یا مشورتي غونډې، د سترې محکمې د محترم عالي مقام، د سترې محکمې محترم مقام د معاونیتونو، د تمیزونو عالي ریاستونو، د دارالانشاء عمومي ریاست، د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست یا د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست لخوا محکمې ته واستول شي، مربوطه محکمه یوازې په همدغه معلومه موضوع کې استفاده ورڅخه کولای شي، دغه محکمه په نورو موضوعاتو کې همدارنګه نورې محکمې ددغه هدایت څخه استفاده نشي کولای مګر دا چې په متحدالمآل شکل واستول شي."

بناءً یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.



**د متحدالمآل ګڼه: ۱۳**

**نېټه: ۱۴۴۷/۵/۲۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په افغانستان کې د خلاف لاس (راسته اشترینګ) لرونکو وسایطو د مخنیوي طرحه.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم په اساس په افغانستان کې د خلاف لاس (راسته اشترینګ) لرونکو وسایطو د مخنیوي طرحه د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوه.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۳**

**نېټه: ۱۴۴۷/۵/۲۸ هـ ق**


د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!


السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته


موضوع: په قطعي فیصلو کې د قطعیت د دلیل د لیکلو په هکله.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د مشورتي غونډې مورخه ۱۴۴۷/۵/۲۲هـ.ق د شپېرمې پرېکړې په توسط داسې هدایت کړی: "د قطعي فیصلو د صورتونو په هکله د صادر شوي متحدالمآل نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۵/۷/۱هـ.ق د عملي کولو په موخه دې د یاد متحدالمآل په تعقیب بل متحدالمآل واستول شي او لاندې موارد دې اضافه شي: که د متحدالمآل نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۵/۷/۱هـ.ق مطابق د ابتدائیې یا مرافعې فیصله قطعي شي د یاد متحدالمآل مل د قطعي فیصلو د صورتونو څخه هغه جزء به د یادونې په شکل په فیصله لیکې دکوم جزء په اساس چې فیصله قطعي بلل کیږي. همدارنګه په قطعي فیصلو کې دې د جانبینو څخه د رضاء او نه رضاء پوښتنه نه کیږي او نه دې هم د جانبینو رضاء په ابلاغ پاڼه کې لیکل کیږي بلکې یوازې په هغه صورت کې چې جانبین پر فیصله راضي وي او قطعیت یې د دوی د رضاء له امله وي په دغه صورت کې دې په ابلاغ پاڼه کې د جانبینو د قناعت ګوتې ولګول شي."

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc1443@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳